د پیشرو خپرونه
۲۰ اگست ۲۰۱۴

## ښکیلاکي رسنیز مرییتوب او د مخکښو رسنیو اړتیا

## «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال د نیواک او ښکیلاک ضد رسنیز مورچل

ښکیلاکګران له رسنیو څخه د اغیزناکي وسلې په توګه کار اخلي او د همدې لپاره هر کال په میلیونونو ډالره د رسنیزو تبلیغاتو لپاره لګوي چې موخه یې د عامه ذهنیتونو مدیریت دی. یرغلګران د خپلو مزدورو رسنیو له لارې هڅه کوي خپل یرغلیز سیاست د عامه ذهنیتونو برخه وګرځوي؛ دا بهیر هغه وخت تشدیدیږي چې د هیوادونو نیواک د ستراتیژۍ برخه وي.

د افغانستان له نیواک سره سم د رسنیو بوېناکه ډیران د امپریالیستانو او د سیمې د مرتجعي دولتونو په مالي مرسته رامنځ ته شو. لسګونه تلویزیونونه، خبرې آژانسونه، راډیوګانې، ورځپاڼې، وب پاڼې او اونیزې په مستقیمه توګه د سفارتونو په لارښوونې، دفترونه خلاص کړل او د خلکو د تخدیر دنده یې خپل لومړیتوب وټاکو.

دا وخت د افغانستان رسنۍ د هغو چوپړیانو په لاس کې دي چې د ښکیلاک مرییان دي چې کله نا کله د ښه مرییتوب لپاره ورته د میړانې او زړورتیا مډالونه په سینه ټومبل کیږي. په دې رسنیز ناورین کې د مخکښو رسنیو تشه له ورایه ښکاري. سره له دې چې د خپلواکۍ ډګر رسنیز مورچل کمزوره دی او ښایي چې په دې برخه کې نه ستومانه کېدونکې کار تر سره شي، ځینې «سره» شوده ګان پر مخکښو رسنیو بیلابیل تورونه وهي او هڅه کوي چې دا مورچل لا کمزورې کړي.

د «آزاد افغانستان ـ افغانستان آزاد» پورتال هغه مبارز او مخکښه پورتال دی چې په خپل شپږکلن فعالیت کې د خپلواکۍ او د ښکیلاک ضد مبارزه کې د پام وړ کار تر سره کړی دی. په دې پورتال کې هغه روڼ اندي لیکوالان او شاعران سره راټول شوي چې ډیری یې د سوسیال امپریالیزم تیري پر مهال د خپلواکۍ لپاره جنګیدلي او د ویرجنو جیلونو د تورو تمبو تر شا یې د میړانې حماسې پریښودی دي. دا پورتال، د خپلواکۍ یو رسنیز مورچل دی او همدا دی چې د فرهنګي جبهې د یو ستوري په توګه ځلیږي او د بې ایمانو او مرتدو عناصرو سترګې بړېښوي.

د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال تفنن او سرګرمي نه ده، بلکې هغه مورچل دی چې د خپلواکۍ جبهه ورته اړتیا لري. د «پیشرو» لیکواله ډله ویاړ لري چې په تیرو شپږو کلونو کې په دې مورچل کې شتون لري. د «پیشرو» نشریه داسې فرهنګي مورچل، چې په رښتني ډول او له پرمختللي او مخکښ اند سره د یرغلګرو په وړاندې مبارزه مخې ته بیایي، د وخت اړتیا ګڼي او له بداینې یې په بشپړه توګه ملاتړ کوي.

«پیشرو» هیله لري چې د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال د یو ځلانده ستوري په توګه په راتلونکو کلونو کې وځلیږي او د یو پرتمین مورچل په توګه د فرهنګي مبارزې برخه وګرځي. په همدې هیلې سره د پورتال د لیکوالانو قلم د یرغلګرو په ضد لا پیاوړی غواړو.